# المؤمنون

**مکی سورة دی ۱۱۸ آیتونه لری**

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

قَدۡ أَفۡلَحَ ٱلۡمُؤۡمِنُونَ ١

**بیشکه چه مؤمنین نیکمرغه او بریمن دی.**

ٱلَّذِينَ هُمۡ فِي صَلَاتِهِمۡ خَٰشِعُونَ ٢

**هغه( مؤمنین) چې خپل لمونځونه په خشوع او خضوع( او حضور قلب) سره آداء کوی.**

وَٱلَّذِينَ هُمۡ عَنِ ٱللَّغۡوِ مُعۡرِضُونَ ٣

**او هغوی چې له ناوړو اعمالو او اقوالو نه مخ ګرځوی( او ځانونه ترې لیرې ساتی).**

وَٱلَّذِينَ هُمۡ لِلزَّكَوٰةِ فَٰعِلُونَ ٤

**او هغه (مؤمنین) چې زکاتونه ورکوی( او خپل بدنونه، زړونه او شتمنئ) پاکوی.**

وَٱلَّذِينَ هُمۡ لِفُرُوجِهِمۡ حَٰفِظُونَ ٥

**او هغوی چې خپلې لمنې( له حرامو شهوتونو) نه (پاکې) ساتی.**

إِلَّا عَلَىٰٓ أَزۡوَٰجِهِمۡ أَوۡ مَا مَلَكَتۡ أَيۡمَٰنُهُمۡ فَإِنَّهُمۡ غَيۡرُ مَلُومِينَ ٦

**خو خپلې میرمنې او وینځې یې( ورته حلالې دی او) ملامتی ورباندې نشته.**

فَمَنِ ٱبۡتَغَىٰ وَرَآءَ ذَٰلِكَ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡعَادُونَ ٧

**نو هغه کسان( چې د جنسی غریزې د پوره کولو لپاره له خپلو منکوحه ښځو او وینځو)نه غیر، نورې( ناروا) لارې غوره کوی،( له حق نه) تیری کوونکی شمیرل کیږی.**

وَٱلَّذِينَ هُمۡ لِأَمَٰنَٰتِهِمۡ وَعَهۡدِهِمۡ رَٰعُونَ ﴿٨﴾

**او هغه( مؤمنین نیکمرغه او بریمن دی ) چې د امانتونو ساتونکی او له( خالق او مخلوق سره) په عهد او پیمان تینګ ولاړ وی.**

وَٱلَّذِينَ هُمۡ عَلَىٰ صَلَوَٰتِهِمۡ يُحَافِظُونَ ﴿٩﴾

**او هغه کسان چې (په ټاکلو وختونو او له اصولو او ارکانو سره سم) په مداومت سره لمونځونه کوی.**

أُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡوَٰرِثُونَ ﴿١٠﴾

**( په همدغو ښیږو واړو صفاتو موصوف مؤمنین په حقیقت کې) وارثان دی،**

ٱلَّذِينَ يَرِثُونَ ٱلۡفِرۡدَوۡسَ هُمۡ فِيهَا خَٰلِدُونَ ﴿١١﴾

**د هغه جنت الفردوس وارثان  چې دوی به پکې ابدی او تلپاتې هستوګن وی.**

وَلَقَدۡ خَلَقۡنَا ٱلۡإِنسَٰنَ مِن سُلَٰلَةٖ مِّن طِينٖ ﴿١٢﴾

**او یقیناً چې مونږ انسان( آدم) د (غوره کړی شوې) خاورې له عصارې څخه پیدا کړی( او نور انسانان له نطفې څخه پیدا کوو، چې نطفه هم له  ځمکنیو خوراکونو او غذاګانوعصاره ده).**

ثُمَّ جَعَلۡنَٰهُ نُطۡفَةٗ فِي قَرَارٖ مَّكِينٖ ﴿١٣﴾

**او بیا مو( د آدم اولاد) د نطفې په  شکل( د مور د رحم) په مستحکمه قرارګاه کې وساته.**

ثُمَّ خَلَقۡنَا ٱلنُّطۡفَةَ عَلَقَةٗ فَخَلَقۡنَا ٱلۡعَلَقَةَ مُضۡغَةٗ فَخَلَقۡنَا
ٱلۡمُضۡغَةَ عِظَٰمٗا فَكَسَوۡنَا ٱلۡعِظَٰمَ لَحۡمٗا ثُمَّ أَنشَأۡنَٰهُ خَلۡقًا ءَاخَرَۚ
فَتَبَارَكَ ٱللَّهُ أَحۡسَنُ ٱلۡخَٰلِقِينَ ﴿١٤﴾

**بیا مو نطفه( یعنې د منی ترلی څاڅکی) په علقه( یعنې د وینې په ټوټه) بدله کړه، وروسته مو دغه د وینې ټوټه د غوښې په بوټۍ واړوله، وروسته مو دغه د غوښې بوټۍ( کلکه او) په هډوکي بدل او( د هډوکو قفس یا ډانچه) مو(بیرته د رګونو او پلو او تارونو) په غوښو وپوښوله او بیا مو( د روح په ورکولو سره) د یوه نوی**

ژوندی مخلوق په شکل راځرګند کړ، نو د ډیر لوړ او عظیم شان لرونکی دی د الله تعالی ذات چې تر ټولو ښه خالق او پیدا کوونکی دی.

ثُمَّ إِنَّكُم بَعۡدَ ذَٰلِكَ لَمَيِّتُونَ ١٥

له دې وروسته تاسو ټول د مرګ په خوب ویده کیږۍ.

ثُمَّ إِنَّكُمۡ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ تُبۡعَثُونَ ١٦

او بیا به د قیامت په ورځ بیرته راژوندی شۍ.

وَلَقَدۡ خَلَقۡنَا فَوۡقَكُمۡ سَبۡعَ طَرَآئِقَ وَمَا كُنَّا عَنِ ٱلۡخَلۡقِ غَٰفِلِينَ ١٧

او یقیناً چې ستاسو له پاسه مو اوه آسمانونه( یو د بل له پاسه) پیدا کړی او مونږ له خپلو مخلوقاتو بې خبره نه یو.

وَأَنزَلۡنَا مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءَۢ بِقَدَرٖ فَأَسۡكَنَّٰهُ فِي ٱلۡأَرۡضِۖ وَإِنَّا عَلَىٰ ذَهَابِۭ بِهِۦ لَقَٰدِرُونَ ١٨

او له آسمانه مو په هغه ټاکلې اندازه اوبه( چې د مخلوقاتو ښیګڼه پکې وینو) نازلې کړی، او هغه مو په ځمکه کې جذب او ذخیره کړی( چې د کاریزونو، څاګانو او نورو لارو چارو ترې ګټه اخلئ) او د اوبو جریان او چلښت هم زمونږ په پوره واک کې دی( او دا قدرت هم لرو چې په بخار یې تبدیل او بیرته پورته وخیژوو).

فَأَنشَأۡنَا لَكُم بِهِۦ جَنَّٰتٖ مِّن نَّخِيلٖ وَأَعۡنَٰبٖ لَّكُمۡ فِيهَا فَوَٰكِهُ كَثِيرَةٞ وَمِنۡهَا تَأۡكُلُونَ ١٩

نو د دغو اوبو په وسیله مو ستاسو لپاره د کجورو او انګورو باغونه پیدا کړی چې تاسو ته پکې ډیرې میوې په لاس درځی( چې هم ترې پلورۍ) او هم ترې خورۍ.

وَشَجَرَةٗ تَخۡرُجُ مِن طُورِ سَيۡنَآءَ تَنۢبُتُ بِٱلدُّهۡنِ وَصِبۡغٖ لِّلۡأٓكِلِينَ ٢٠

او د طور په غره کې مو د ( زیتون) ونه پیدا کړې چې هم غوړی لری او هم ترې د کتغ( انګولی) په حیث استفاده کوی.

وَإِنَّ لَكُمْ فِي ٱلْأَنْعَـٰمِ لَعِبْرَةً ۖ نُّسْقِيكُم مِّمَّا فِي بُطُونِهَا وَلَكُمْ فِيهَا مَنَـٰفِعُ
كَثِيرَةٌ وَمِنْهَا تَأْكُلُونَ ﴿٢١﴾

**او یقیناً ستاسو لپاره په( حلال غوښنو) څارویو( اوښانو، غواو او پسونو) کې د عبرت نښې دی، د هغوی په نسونو کې شته شیدې، ستاسو د څښاک لپاره دی. او ډیرې نورې ګټې مو هم پکې پرتې دی او غوښې یې هم خورئ.**

وَعَلَيْهَا وَعَلَى ٱلْفُلْكِ تُحْمَلُونَ ﴿٢٢﴾

**او له دغو څارویو( اوښانو) څخه د سپرلۍ او نقلیه وسیلې پحیث ګټه اخلئ او( بحری سفرونه مو) په کښتیو کې دی( د یادولو وړ ده چې د مبارک قرآن د نزول په زمانه کې،اوښ د سپرلۍ او تجارتی مالونو د انتقال یوازینۍ وسیله وه) .**

وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا نُوحًا إِلَىٰ قَوْمِهِۦ فَقَالَ يَـٰقَوْمِ ٱعْبُدُوا۟ ٱللَّهَ مَا لَكُم مِّنْ إِلَـٰهٍ
غَيْرُهُۥٓ ۖ أَفَلَا تَتَّقُونَ ﴿٢٣﴾

**او نوح مو د هغه قوم ته واستاوه چې ورته یې وویل: ای زما قومه! د الله تعالی عبادت وکړئ چې ستاسو لپاره له هغه نه غیر بل خدای نشته نو آیا( د باطلو معبودانو له پرستش نه لاس نه اخلئ او له الهی عذابه) نه ویرېږئ؟**

فَقَالَ ٱلْمَلَؤُا۟ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ مِن قَوْمِهِۦ مَا هَـٰذَآ إِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ يُرِيدُ أَن يَتَفَضَّلَ
عَلَيْكُمْ وَلَوْ شَآءَ ٱللَّهُ لَأَنزَلَ مَلَـٰٓئِكَةً مَّا سَمِعْنَا بِهَـٰذَا فِيٓ ءَابَآئِنَا
ٱلْأَوَّلِينَ ﴿٢٤﴾

**د قوم کافرو مشرانو او اشرافو( عامو خلکو ته) وویل: دی خو ستاسو په شان انسان دی او مقصد یې په تاسو باندې د خپلې باداری او برتری تینګول دی، او که الله تعالی ( د کوم پیغمبر د راستولو) اراده فرمایلی وی، نو خامخا به یې کومه پرښته( د پیغمبر په حیث) رالیږلی وی( نه انسان). مونږ (د انسان د پیغمبری خبره) د خپلو پلرونو نیکونو( په وختونو کې) هم نه ده اوریدلې.**

إِنْ هُوَ إِلَّا رَجُلٌۢ بِهِۦ جِنَّةٌ فَتَرَبَّصُوا۟ بِهِۦ حَتَّىٰ حِينٍ ﴿٢٥﴾

په دې سړی کې د لیونتوب آثار ښکاری، نو تر څه مودې ورته انتظار وکړئ( چې پوره تشخیص یې وشی).

قَالَ رَبِّ ٱنصُرْنِى بِمَا كَذَّبُونِ ﴿٢٦﴾

نوح وویل: ای ربه د دوی د تکذیب په مقابل کې زما مرسته وکړه.

فَأَوْحَيْنَآ إِلَيْهِ أَنِ ٱصْنَعِ ٱلْفُلْكَ بِأَعْيُنِنَا وَوَحْيِنَا فَإِذَا جَآءَ أَمْرُنَا
وَفَارَ ٱلتَّنُّورُ ۙ فَٱسْلُكْ فِيهَا مِن كُلٍّ زَوْجَيْنِ ٱثْنَيْنِ وَأَهْلَكَ
إِلَّا مَن سَبَقَ عَلَيْهِ ٱلْقَوْلُ مِنْهُمْ ۖ وَلَا تُخَـٰطِبْنِى فِى ٱلَّذِينَ ظَلَمُوٓا۟ ۖ
إِنَّهُم مُّغْرَقُونَ ﴿٢٧﴾

نو مونږ ورته د وحي په وسیله امر وکړ چې زمونږ د نظارت او لارښوونې لاندې د یوې کښتۍ د جوړولو تابیا ونیسه، او کله چې د هغوی د تباهۍ لپاره زمونږ فرمان ابلاغ شی او له تنور( د ځمکې له تل) نه د اوبو فوارې را پورته شی، نو( له حیواناتو، نباتاتو او میوو نه) یوه یوه جوړه( نر او ښځه) او د خپلې کورنۍ غړی( او مؤمنان) پکې سپاره کړه، خو هغو کسانو ته پکې چې لا پخوا یې د عذاب فیصله شوې، د ناستې اجازه نشته، او د هیڅ کوم ظالم په باب هم زما سره خبرې مه کوه( او مه یې د خلاصون کوښښ کوه) ځکه د هغوی د غرقیدو لپاره قاطعانه او نافذالعمل فیصله صادره شوې ده.

فَإِذَا ٱسْتَوَيْتَ أَنتَ وَمَن مَّعَكَ عَلَى ٱلْفُلْكِ فَقُلِ ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ ٱلَّذِى نَجَّىٰنَا مِنَ
ٱلْقَوْمِ ٱلظَّـٰلِمِينَ ﴿٢٨﴾

نو کله چې ته او ملګری دې په کښتۍ کې کښېنۍ( د دغه نعمت د شکران لپاره) ووایه: ثنا او ستاینه ده د الله تعالی، هغه ذات چې مونږ یې د ظالمانو له منګولو وژغورلو.

وَقُل رَّبِّ أَنزِلْنِى مُنزَلًا مُّبَارَكًا وَأَنتَ خَيْرُ ٱلْمُنزِلِينَ ﴿٢٩﴾

**او ووایه: ربه! ما د خیر او برکت نه ډک مقام ته ورسوه، بیشکه چې ته تر ټولو غوره رسوونکی او میلمه پالونکی ذات یې( نو مونږ ته له برکتونو ډکه ځمکه را په برخه کړه).**

إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَـَٔايَٰتٖ وَإِن كُنَّا لَمُبۡتَلِينَ ٣٠

**بې له شکه، په دغه قیصه کې، د عبرت اخستونکو لپاره،( د الله تعالی د قدرت، رحمت او انتقامی مجازاتو) نښې دی، او یقیناً چې مونږ خپل بندګان له( ډول ډول) امتحانونو او ازمایښتونو سره مخامخ کوو( تر څو تابعداران او سرکشان د عینیت په ډګر کې سره تفکیک او وپیژندل شی).**

ثُمَّ أَنشَأۡنَا مِنۢ بَعۡدِهِمۡ قَرۡنًا ءَاخَرِينَ ٣١

**( د نوح د قوم له تباه کولو نه وروسته مو) بل قوم ( عادیان) را پیدا کړل.**

فَأَرۡسَلۡنَا فِيهِمۡ رَسُولٗا مِّنۡهُمۡ أَنِ ٱعۡبُدُواْ ٱللَّهَ مَا لَكُم مِّنۡ إِلَٰهٍ غَيۡرُهُۥٓۚ أَفَلَا
تَتَّقُونَ ٣٢

**او له هغوی څخه مو یو تن( هود علیه السلام) د پیغمبر په حیث وټاکه( له دې پیغام سره چې:) یوازې د الله تعالی عبادت وکړی، ستاسو لپاره له هغه نه غیر بل خدای نشته. نو آیا د الله تعالی له عذابه، نه ویریږی؟( او د باطلو خدایانو له پرستش نه لاس نه اخلی؟).**

وَقَالَ ٱلۡمَلَأُ مِن قَوۡمِهِ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ وَكَذَّبُواْ بِلِقَآءِ ٱلۡأٓخِرَةِ وَأَتۡرَفۡنَٰهُمۡ فِي
ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا مَا هَٰذَآ إِلَّا بَشَرٞ مِّثۡلُكُمۡ يَأۡكُلُ مِمَّا تَأۡكُلُونَ مِنۡهُ
وَيَشۡرَبُ مِمَّا تَشۡرَبُونَ ٣٣

**او د قوم کافرو او له آخرت نه منکرو مشرانو او سردارانو، چې مونږ ورته د مادی ژوند ټول مادی وسایل او نعمتونه ورکړی وو، وویل: دغه سړی خو ستاسو په شان یو انسان دی. څه چې تاسو خوری، دی یې هم خوری، او څه چې تاسو څښی، دی یې هم څښی.**

وَلَئِنۡ أَطَعۡتُم بَشَرٗا مِّثۡلَكُمۡ إِنَّكُمۡ إِذٗا لَّخَٰسِرُونَ ٣٤

**او که د خپل همنوع انسان اطاعت وکړی، نو یقیناً چې له زیان سره به مخامخ شی.**

أَيَعِدُكُمۡ أَنَّكُمۡ إِذَا مِتُّمۡ وَكُنتُمۡ تُرَابٗا وَعِظَٰمًا أَنَّكُم مُّخۡرَجُونَ ٣٥

آیا( دغه سړی) تاسو ته وعده درکوی چې له مرګه وروسته، چې هډوکی مو خاورې شی( له قبرونو څخه به) ژوندی راپورته کړی شی.

﴿ هَيۡهَاتَ هَيۡهَاتَ لِمَا تُوعَدُونَ ٣٦ ﴾

ناشونې - او پوره ناشونې او ناممکنه دی هغه کار چې ستاسو سره یې وعده کیږی.

﴿ إِنۡ هِيَ إِلَّا حَيَاتُنَا ٱلدُّنۡيَا نَمُوتُ وَنَحۡيَا وَمَا نَحۡنُ بِمَبۡعُوثِينَ ٣٧ ﴾

زموږ لپاره، له دې دنیوی ژوند نه غیر،( بل ژوند) نشته. (یوه ډله) به مری او ( بله ډله) به دنیا ته راځی او له مرګه وروسته، بیا راژوندی کیدل نشته.

﴿ إِنۡ هُوَ إِلَّا رَجُلٌ ٱفۡتَرَىٰ عَلَى ٱللَّهِ كَذِبٗا وَمَا نَحۡنُ لَهُۥ بِمُؤۡمِنِينَ ٣٨ ﴾

دا سړی په الله تعالی دروغ تړی او موږ ورباندې ایمان او باور نه شو کولی.

﴿ قَالَ رَبِّ ٱنصُرۡنِي بِمَا كَذَّبُونِ ٣٩ ﴾

(پیغمبر) وویل: ای ربه د دوی د تکذیب په مقابل کې زما مرسته وکړه.

﴿ قَالَ عَمَّا قَلِيلٖ لَّيُصۡبِحُنَّ نَٰدِمِينَ ٤٠ ﴾

( الله تعالی) وفرمایل: دوی به( پخپل کفر او انکار) ډیر زر پښیمانه شی.

﴿ فَأَخَذَتۡهُمُ ٱلصَّيۡحَةُ بِٱلۡحَقِّ فَجَعَلۡنَٰهُمۡ غُثَآءٗۚ فَبُعۡدٗا لِّلۡقَوۡمِ ٱلظَّٰلِمِينَ ٤١ ﴾

نو یوې مرګونې او هیبتناکې چیغې راونیول( چه د ټولو زړونه ورسره وچاودل او له بل خوا ورباندې تباه کوونکې سیلۍ راوالوته چې دوی یې) د خس و خاشاک په شان د الهی عذاب په سیلاب لاهو کړل. محروم او رټل شوی دې وی ظالمان د الله تعالی له رحمته.

﴿ ثُمَّ أَنشَأۡنَا مِنۢ بَعۡدِهِمۡ قُرُونًا ءَاخَرِينَ ٤٢ ﴾

بیا مو له هغوی نه وروسته، نور قومونه د هستی صحنې ته راوراندې کړل.

﴿ مَا تَسۡبِقُ مِنۡ أُمَّةٍ أَجَلَهَا وَمَا يَسۡتَـٔۡخِرُونَ ٤٣ ﴾

هیڅ امت له خپل ټاکلی وخت څخه، نه زیات پاېښت مومی، نه کم.

ثُمَّ أَرْسَلْنَا رُسُلَنَا تَتْرَا ۖ كُلَّ مَا جَاءَ أُمَّةً رَّسُولُهَا كَذَّبُوهُ ۚ فَأَتْبَعْنَا بَعْضَهُم
بَعْضًا وَجَعَلْنَاهُمْ أَحَادِيثَ ۚ فَبُعْدًا لِّقَوْمٍ لَّا يُؤْمِنُونَ ﴿٤٤﴾

بیا مو د پیغمبرانو د لیږلو لړۍ روانه وساتله، خو هر امت ته چې پیغمبر ورغلی، د تکذیب له شعارونو سره مخامخ شوی او له همدې امله مو دغه امتونه یو په بل پسې له منځه وړی او( د نورو د عبرت لپاره مو) د واقعی داستانونو په حیث د تاریخ غیږې ته سپارلی دی. نو رټل شوی او بې برخې دې وی د الله له رحمته، هغه قوم چې ایمان نه راوړی.

ثُمَّ أَرْسَلْنَا مُوسَىٰ وَأَخَاهُ هَارُونَ بِآيَاتِنَا وَسُلْطَانٍ مُّبِينٍ ﴿٤٥﴾

بیا مو، موسی او د هغه ورور هارون د خپلو روښانه دلایلو او معجزاتو سره( په رسالت) موظف کړل.

إِلَىٰ فِرْعَوْنَ وَمَلَئِهِ فَاسْتَكْبَرُوا وَكَانُوا قَوْمًا عَالِينَ ﴿٤٦﴾

چې فرعون او د هغه درباری اشرافو او چارواکو ته( الهی حکم ابلاغ کړی) خو فرعونیانو په تکبر( او عناد سره الهی پیغام رد کړ) ځکه د برتری غوښتنې او خود خواهی احساسات یې په دماغو مسلط وو.

فَقَالُوا أَنُؤْمِنُ لِبَشَرَيْنِ مِثْلِنَا وَقَوْمُهُمَا لَنَا عَابِدُونَ ﴿٤٧﴾

او( د تکبر په نشه کې یې) وویل: آیا مونږ پخپلو دوو داسې همنوعو انسانانو ایمان راوړو، چې قوم او قبیله یې زمونږ غلامان او نوکران دی؟

فَكَذَّبُوهُمَا فَكَانُوا مِنَ الْمُهْلَكِينَ ﴿٤٨﴾

نو دواړه( ورونه پیغمبران یې) دروغ وګڼل، او له همدې امله په تباه کوونکی سیند لاهو شول.

وَلَقَدْ آتَيْنَا مُوسَى الْكِتَابَ لَعَلَّهُمْ يَهْتَدُونَ ﴿٤٩﴾

او مونږ موسی ته کتاب هم ورکړ چې کیدی شی خلک یې( د احکامو په تطبیق سره) د هدایت په لاره برابر شی.

وَجَعَلْنَا ابْنَ مَرْيَمَ وَأُمَّهُ آيَةً وَآوَيْنَاهُمَا إِلَىٰ رَبْوَةٍ ذَاتِ قَرَارٍ
وَمَعِينٍ ﴿٥٠﴾

او د مریم ځوی او د هغه مور مو( د خپل قدرت او رحمت د یوه مثال په توګه) غوره کړل، او دواړه مو په یوه
لوړه غونډۍ په داسې سیمه کې هستوګن کړل چې امنیت یې کاملاً تامین او د پاکو او رڼو اوبو چینې پکې
روانې وې.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلرُّسُلُ كُلُوا۟ مِنَ ٱلطَّيِّبَٰتِ وَٱعْمَلُوا۟ صَٰلِحًا ۖ إِنِّى بِمَا تَعْمَلُونَ
عَلِيمٌ ﴿٥١﴾

ای پیغمبرانو! پاک( او حلال) خواړه وخورئ او نیکو چارو ته مخه کړئ( او باور وساتئ چې) مونږ ستاسو په
کړنو ډیر ښه خبر یو.

وَإِنَّ هَٰذِهِۦٓ أُمَّتُكُمْ أُمَّةً وَٰحِدَةً وَأَنَا۠ رَبُّكُمْ فَٱتَّقُونِ ﴿٥٢﴾

او بیشکه دا( اسلام) ستاسو لپاره یوازینی او حقیقی دین دی، او زه ستاسو رب یم، نو له( عذابه) مې ځانونه
وساتئ .

فَتَقَطَّعُوٓا۟ أَمْرَهُم بَيْنَهُمْ زُبُرًا ۖ كُلُّ حِزْبٍۭ بِمَا لَدَيْهِمْ فَرِحُونَ ﴿٥٣﴾

خو( امتیانو یې) خپل ( قانون) ټوټه ټوټه کړ( او په ډلو ټپلو وویشل شول) چې هره ډله پخپل خپل( جوړ کړی
قانون) خوشاله ده ( او ځانونه په حقه ګڼی).

فَذَرْهُمْ فِى غَمْرَتِهِمْ حَتَّىٰ حِينٍ ﴿٥٤﴾

نو( ای پیغمبره) پریږده چې دوی تر څه وخته د خپلې ګمراهۍ او جهالت په تږمو کې سرګردانه وی.

أَيَحْسَبُونَ أَنَّمَا نُمِدُّهُم بِهِۦ مِن مَّالٍ وَبَنِينَ ﴿٥٥﴾

مونږ دوی ته د مال او اولاد په لورینه مهلت ورکړی، خو آیا دوی فکر کوی چې:

نُسَارِعُ لَهُمْ فِى ٱلْخَيْرَٰتِ ۚ بَل لَّا يَشْعُرُونَ ﴿٥٦﴾

مونږ ورته د خیر رسولو اقدام کوو( نه داسې نه ده) بلکه دوی نه پوهیږی( چې مونږ دوی پری ایښی ترڅو
په طغیان او بدبختۍ کې نور هم ډوب شی).

إِنَّ ٱلَّذِينَ هُم مِّنْ خَشْيَةِ رَبِّهِم مُّشْفِقُونَ ﴿٥٧﴾

هغه کسان چه د خپل رب ( د عذاب )له ویرې، لرزیږی.

وَٱلَّذِينَ هُم بِـَٔايَٰتِ رَبِّهِمۡ يُؤۡمِنُونَ ﴿٥٨﴾

او هغوی چې د خپل رب په آیتونو ایمان لری.

وَٱلَّذِينَ هُم بِرَبِّهِمۡ لَا يُشۡرِكُونَ ﴿٥٩﴾

او هغوی چې له خپل رب سره( په ربوبیت کې) نور شریکان نه غوره کوی.

وَٱلَّذِينَ يُؤۡتُونَ مَآ ءَاتَواْ وَّقُلُوبُهُمۡ وَجِلَةٌ أَنَّهُمۡ إِلَىٰ رَبِّهِمۡ رَٰجِعُونَ ﴿٦٠﴾

او هغوی چې( د الله تعالی له خوا) د ورپه برخه کړی شوی شتمنی څخه (د زکاتونو او خیراتونو) له ورکولو سره سره یې زړونه، خپل رب ته له ورتګ( او دقیقې محاسبې نه) په ویره کې لرزیږی.

أُوْلَٰٓئِكَ يُسَٰرِعُونَ فِي ٱلۡخَيۡرَٰتِ وَهُمۡ لَهَا سَٰبِقُونَ ﴿٦١﴾

دا هغه خلک دی چې په خیریه چارو کې ډیرې هڅې کوی او(له یو بل نه پکې)وړاندې کیږی.

وَلَا نُكَلِّفُ نَفۡسًا إِلَّا وُسۡعَهَاۖ وَلَدَيۡنَا كِتَٰبٌ يَنطِقُ بِٱلۡحَقِّۚ وَهُمۡ لَا يُظۡلَمُونَ ﴿٦٢﴾

( دغه ذکر شوی غوره صفات او اعمال له انسانی طاقت نه پورته او وتلې چارې نه دی) او مونږ په هیچا باندې، د هغه له توان طاقت نه زیات تکلیف او مسئولیت نه ږدو، او له مونږ سره د ( لوح محفوظ یا د عملنامو) کتاب دی( چې د خلقت د چارو او خلکو د اعمالو په باب) واقعیتونه بیانوی،او په هغوی به( د مکافات او مجازات په ورکولو کې) هیڅ ډول ظلم او زیاتی ونشی.

بَلۡ قُلُوبُهُمۡ فِي غَمۡرَةٖ مِّنۡ هَٰذَا وَلَهُمۡ أَعۡمَٰلٌ مِّن دُونِ ذَٰلِكَ هُمۡ لَهَا عَٰمِلُونَ ﴿٦٣﴾

بلکه د ( کافرانو او مشرکانو) زړونه( له قرآن او آخرت نه) کاملاً د بې خبرۍ او غفلت په پردو کې نغښتې دی، او دوی له( غفلت نه) علاوه، لا په نورو ناوړو اعمالو او مفاسدو کې هم ککړ دی.

حَتَّىٰٓ إِذَآ أَخَذۡنَا مُتۡرَفِيهِم بِٱلۡعَذَابِ إِذَا هُمۡ يَجۡـَٔرُونَ ﴿٦٤﴾

**تر هغه چې عیاشان او په مزو چرچو کې ډوب مشران یې په عذاب اخته کړو، نو بیا په چیغو سورو( او اوږدو دعاګانو) سر شی.**

لَا تَجْـَٔرُوا۟ ٱلْيَوْمَ ۖ إِنَّكُم مِّنَّا لَا تُنصَرُونَ ﴿٦٥﴾

**( خو ورته به وویل شی) نن چیغې سورې مه وهی، هیڅوک مو له مونږ نه نشی خلاصولی.**

قَدْ كَانَتْ ءَايَٰتِى تُتْلَىٰ عَلَيْكُمْ فَكُنتُمْ عَلَىٰٓ أَعْقَٰبِكُمْ تَنكِصُونَ ﴿٦٦﴾

**هو- همدا تاسو واست چې زمونږ آیتونه درته لوستل کیدل، خو تاسو به ترې، په شا، تښتیدئ ( او اوریدلو ته یې تیار نه واست).**

مُسْتَكْبِرِينَ بِهِۦ سَٰمِرًا تَهْجُرُونَ ﴿٦٧﴾

**او په غرور او تکبر به مو په خپلو شومه دم محافلو او بنډارونو کې، زمونږ په آیتونو ملنډې وهلې، او سپکې سپورې به مو پورې تړلې.**

أَفَلَمْ يَدَّبَّرُوا۟ ٱلْقَوْلَ أَمْ جَآءَهُم مَّا لَمْ يَأْتِ ءَابَآءَهُمُ ٱلْأَوَّلِينَ ﴿٦٨﴾

**آیا ( کافران) له فکر او تدبر نه کار نه اخلی او نه پوهیږی(چې دا قرآن الهی وحې ده)، او که داسې کوم نوی شی ورته ښکاری چې د دوی پخوانیو پلرونو ته هم نه و نازل شوی؟( بلکه له دې وړاندې نور آسمانی کتابونه هم نازل شوی او پیغمبران هم راغلی دی).**

أَمْ لَمْ يَعْرِفُوا۟ رَسُولَهُمْ فَهُمْ لَهُۥ مُنكِرُونَ ﴿٦٩﴾

**او که خپل پیغمبر یې( د حسب، نسب، صداقت، امانت، اخلاقو او کرامت) له لحاظه، نه دی پیژندلی، چې د هغه له رسالت څخه منکریږی.**

أَمْ يَقُولُونَ بِهِۦ جِنَّةٌۢ ۚ بَلْ جَآءَهُم بِٱلْحَقِّ وَأَكْثَرُهُمْ لِلْحَقِّ كَٰرِهُونَ ﴿٧٠﴾

**یا دا چه وایې( دا پیغمبر) خو سودایی دی،( نه داسې نه ده) بلکه هغه خو دوی ته حق( دین) راوړی، او د دوی زیاتره کسان( یا د نفسی خواهشاتو په پیروئ او یا د ابوطالب په شان د قومی ملامتی او شرم له امله) له حق( دین) څخه کرکه کوی.**

وَلَوِ ٱتَّبَعَ ٱلۡحَقُّ أَهۡوَآءَهُمۡ لَفَسَدَتِ ٱلسَّمَٰوَٰتُ وَٱلۡأَرۡضُ وَمَن
فِيهِنَّۚ بَلۡ أَتَيۡنَٰهُم بِذِكۡرِهِمۡ فَهُمۡ عَن ذِكۡرِهِم
مُّعۡرِضُونَ ﴿٧١﴾

**او که حق د دوی د نفسی خواهشاتو پیروی وکړی، نو یقیناً چې آسمانونه او ځمکه او پکې شته موجودات (او د کایناتو ټینګ نظم به)له منځه لاړ شی( نو له همدې امله حق د دوی د هوا او هوس تابع کیدی نشی) بلکه دوی ته مو یو داسې کتاب ورکړی، (چې د عزت او سرلوړۍ متضمن یې دی) خو دوی ترې بیاهم مخ ګرځوی.**

أَمۡ تَسۡـَٔلُهُمۡ خَرۡجٗا فَخَرَاجُ رَبِّكَ خَيۡرٞۖ وَهُوَ خَيۡرُ ٱلرَّٰزِقِينَ ﴿٧٢﴾

**او که ته( د خپل رسالت د سرته رسولو په بدل کې) له دوی نه کومه اجوره غواړې؟ نو ستا د رب اجر له هرڅه نه زیات دی، او هغه تر ټولو ښه روزی ورکوونکی دی.**

وَإِنَّكَ لَتَدۡعُوهُمۡ إِلَىٰ صِرَٰطٖ مُّسۡتَقِيمٖ ﴿٧٣﴾

**او بیشکه چې ته هغوی سمې لارې( اسلام) ته رابلې.**

وَإِنَّ ٱلَّذِينَ لَا يُؤۡمِنُونَ بِٱلۡأٓخِرَةِ عَنِ ٱلصِّرَٰطِ لَنَٰكِبُونَ ﴿٧٤﴾

**او بیشکه چې له آخرت نه منکرین، په حقیقت کې له مستقیمې لارې منحرف او ګمراه دی.**

۞ وَلَوۡ رَحِمۡنَٰهُمۡ وَكَشَفۡنَا مَا بِهِم مِّن ضُرّٖ لَّلَجُّواْ فِي طُغۡيَٰنِهِمۡ
يَعۡمَهُونَ ﴿٧٥﴾

**او( ای پیغمبره! که ستا په دعا د مکې په کافرانو)  رحم  وکړو (او قحط) او مصیبت  ترې لیرې کړو، بیا به هم پخپله سرکشۍ او طغیان کې سرګردانه وی.**

وَلَقَدۡ أَخَذۡنَٰهُم بِٱلۡعَذَابِ فَمَا ٱسۡتَكَانُواْ لِرَبِّهِمۡ وَمَا يَتَضَرَّعُونَ ﴿٧٦﴾

**مونږ خو پخوا هم دوی په مصیبتونو او بلاګانو اخته کړی وو( څو د حق په مقابل کې نرم او عاجز شی) خو هیڅکله یې هم، نه د خپل رب( احکامو ته) غاړه کیښوده او نه یې ورته زارۍ او دعاګانې وکړې.**

حَتَّىٰٓ إِذَا فَتَحۡنَا عَلَيۡهِم بَابٗا ذَا عَذَابٖ شَدِيدٍ إِذَا هُمۡ فِيهِ مُبۡلِسُونَ ﴿٧٧﴾

تر هغه چې د عذاب دروازه مو وربانديٍ ورخلاصه کړه او بيا( له هرې خوا) مايوسه او نا اميده شول.

وَهُوَ ٱلَّذِيٓ أَنشَأَ لَكُمُ ٱلسَّمۡعَ وَٱلۡأَبۡصَٰرَ وَٱلۡأَفۡـِٔدَةَۚ قَلِيلٗا مَّا تَشۡكُرُونَ ﴿٧٨﴾

الله تعالی هغه ذات دی چې تاسو ته يې غوږونه( د سامعي قوه)، سترګې( د باصرې قوه)  او زړه( د بصيرت قوه) درکړی( تر څو ترې د الهی احکامو په تعميل کې کار واخلی خو زياتره کسان له دغو نعمتونو څخه ناوړه استفاده کوی)او ډير لږ شمير مو شکر کوونکی دی.

وَهُوَ ٱلَّذِي ذَرَأَكُمۡ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَإِلَيۡهِ تُحۡشَرُونَ ﴿٧٩﴾

او( الله تعالی) هغه ذات دی چې تاسو يې په ځمکه کې خواره کړی او بيرته به( په قيامت کې) د هغه حضور ته غونډتل کيږئ.

وَهُوَ ٱلَّذِي يُحۡيِۦ وَيُمِيتُ وَلَهُ ٱخۡتِلَٰفُ ٱلَّيۡلِ وَٱلنَّهَارِۚ أَفَلَا تَعۡقِلُونَ ﴿٨٠﴾

او هغه ذات دی چې ژوند او مرګ يې په واک کې دی، او د شپې او ورځې بدلول رابدلول اداره کوی، نو آيا نه پوهيږئ( او عبرت نه اخلئ؟)

بَلۡ قَالُواْ مِثۡلَ مَا قَالَ ٱلۡأَوَّلُونَ ﴿٨١﴾

( نه يوازې دا چې له عقل نه کار نه اخلی) بلکه د پخوانيو په شان( بې منطقه او مزخرفې خبرې) هم کوی.

قَالُوٓاْ أَءِذَا مِتۡنَا وَكُنَّا تُرَابٗا وَعِظَٰمًا أَءِنَّا لَمَبۡعُوثُونَ ﴿٨٢﴾

وايی: کله چې مونږ مړه شو او بدنونه مو خاورې او هډوکی شی، نو آيا بيا به راژوندی کيږو؟

لَقَدۡ وُعِدۡنَا نَحۡنُ وَءَابَآؤُنَا هَٰذَا مِن قَبۡلُ إِنۡ هَٰذَآ إِلَّآ أَسَٰطِيرُ ٱلۡأَوَّلِينَ ﴿٨٣﴾

دا ډول وعدې خو پخوا هم مونږ او زمونږ پلرونو نيکونو ته ورکړی کيدې، دا ټولې پخوانی افسانې دی.

قُل لِّمَنِ ٱلۡأَرۡضُ وَمَن فِيهَآ إِن كُنتُمۡ تَعۡلَمُونَ ﴿٨٤﴾

ورته ووایه، که پوهه او معرفت لرئ نو ووایئ چې ځمکه او پکې شته موجودات یې د چا ملکیت دی؟

سَيَقُولُونَ لِلَّهِ ۚ قُلْ أَفَلَا تَذَكَّرُونَ ﴿٨٥﴾

درته به ووایی چې د الله دی. نو ورته ووایه: بیا ولې پند او عبرت نه اخلئ؟

قُلْ مَن رَّبُّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ ٱلسَّبْعِ وَرَبُّ ٱلْعَرْشِ ٱلْعَظِيمِ ﴿٨٦﴾

ترې وپوښته چې د اوه ګونو آسمانونو او عظیم عرش مالک او واکدار څوک دی؟

سَيَقُولُونَ لِلَّهِ ۚ قُلْ أَفَلَا تَتَّقُونَ ﴿٨٧﴾

یقیناً چې درته به ووایی: الله تعالی یې (مالک او واکدار) دی. نو ورته ووایه : بیا یې ولې له( عذابه)نه ویرېږئ( او د بتانو له پرستش نه لاس نه اخلئ)؟

قُلْ مَنۢ بِيَدِهِۦ مَلَكُوتُ كُلِّ شَىْءٍ وَهُوَ يُجِيرُ وَلَا يُجَارُ عَلَيْهِ

إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ ﴿٨٨﴾

ورته ووایه که شناخت او معرفت درسره وی ووایئ: څوک دی هغه ذات چې د ټولو موجوداتو( مطلق حاکمیت) او پادشاهی یې په لاس کې ده، او پناه ورکوونکی دی، او هیڅوک د هغه مجرم ته پناه نشی ورکولی؟

سَيَقُولُونَ لِلَّهِ ۚ قُلْ فَأَنَّىٰ تُسْحَرُونَ ﴿٨٩﴾

درته به ووایی: دغه ټول اختیارات د الله تعالی په لاس کې دی( د ټولو موجوداتو خالق او واکدار الله تعالی دی، چاته چې اراده وکړی پناه ورکوی او هیڅوک د الله تعالی مجرم ته پناه نشی ورکولی). نو ورته ووایه، دا کومو کوډو وهلی یئ ( او له حقې لارې یې، بې لارې کړی یاست؟)

بَلْ أَتَيْنَٰهُم بِٱلْحَقِّ وَإِنَّهُمْ لَكَٰذِبُونَ ﴿٩٠﴾

(د دوی ادعا معقولیت نه لری) بلکه مونږ ورته حق( قرآن او توحید) راوړی او بې له شکه دوی دروغجنان دی( چې ترې انکار کوی).

مَا ٱتَّخَذَ ٱللَّهُ مِن وَلَدٍ وَمَا كَانَ مَعَهُۥ مِنْ إِلَٰهٍ ۚ إِذًا لَّذَهَبَ كُلُّ إِلَٰهٍۭ بِمَا

خَلَقَ وَلَعَلَا بَعْضُهُمْ عَلَىٰ بَعْضٍ ۚ سُبْحَٰنَ ٱللَّهِ عَمَّا يَصِفُونَ ﴿٩١﴾

نه خو الله تعالی، څوک پخپله اولادولۍ غوره کړی، او نه د هغه له ذات سره، په ربوبیت کې څوک شریک شته.( که بالفرض بل خدای وی) نو هر خدای به( د چارو په تدبیر کې د خپل طاقت او صلاحیت د اثبات او

تحقق لپاره) خپل خپل مخلوقات له ځان سره جلا کولی( او د نورو خدایانو د  تصرف او تسلط له مداره به یې ویستلی) او په یو بل باندې به د برتری او تفوق په هڅه کې وی. نو پاک او منزه دی د الله تعالی ذات( له هغو ناوړو توصیفاتو څخه) چې دوی یې ورته منسوبوی.

عَٰلِمِ ٱلْغَيْبِ وَٱلشَّهَٰدَةِ فَتَعَٰلَىٰ عَمَّا يُشْرِكُونَ ﴿٩٢﴾

هغه ذات چې په پټو او ښکاره چارو عالم او د دوی له مشرکانه ادعاو څخه ډیر لوړ( او پاک) دی.

قُل رَّبِّ إِمَّا تُرِيَنِّى مَا يُوعَدُونَ ﴿٩٣﴾

ووایه: ای زما ربه که هغه( عذاب) چې دوی ته یې وعده ورکوې زما په موجودیت کې راڅرګند کړې:

رَبِّ فَلَا تَجْعَلْنِى فِى ٱلْقَوْمِ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٩٤﴾

نو زما ربه! ما د ظالمانو له ډلې سره( په عذاب کې مه شریکوه).

وَإِنَّا عَلَىٰٓ أَن نُّرِيَكَ مَا نَعِدُهُمْ لَقَٰدِرُونَ ﴿٩٥﴾

او( ای پیغمبره!) بې له شکه مونږ دا طاقت او قدرت لرو چې له هغوی سره موعود عذاب ستا د سترګو په وړاندې( په هغوی نازل کړو خو د حکمت او مصلحت له مخې یې ځنډوو).

ٱدْفَعْ بِٱلَّتِى هِىَ أَحْسَنُ ٱلسَّيِّئَةَ ۚ نَحْنُ أَعْلَمُ بِمَا يَصِفُونَ ﴿٩٦﴾

نو ( ای پیغمبره ستا د لوړ مقام او اعلی اخلاقو اقتضاء دا ده چې د امکان تر حده)  د هغوی بدی په نیکی سره دفع کړې . مونږ په هغو توصیفاتو ډیر ښه خبر یو چې( مشرکان یې په ناحقه زمونږ په باب) بیانوی( خو سزا یې ټاکلی وخت ته ځنډوو).

وَقُل رَّبِّ أَعُوذُ بِكَ مِنْ هَمَزَٰتِ ٱلشَّيَٰطِينِ ﴿٩٧﴾

او ووایه: ای ربه زه د شیطانانو له وسوسو نه، تاته پناه دروړم.

وَأَعُوذُ بِكَ رَبِّ أَن يَحْضُرُونِ ﴿٩٨﴾

او ای ربه! تاته پناه دروړم له دې چې شیطانان ماته( په لمانځه، تلاوت او ځنکدن کې) حاضر(او را نږدې) شی.

حَتَّىٰٓ إِذَا جَآءَ أَحَدَهُمُ ٱلْمَوْتُ قَالَ رَبِّ ٱرْجِعُونِ ﴿٩٩﴾

( د حق دښمنان له خپل عناد او سرکشی نه لاس نه اخلی، خو تاسو یې په مقابل کې صبر وکړی،) تر هغه چې یو تن ته یې مرګ راورسی، نو وبه وایی: ای ربه( ما د خپلو ګناهونو او تقصیراتو د جبران لپاره) بیرته ستون کړه.

لَعَلِّيٓ أَعۡمَلُ صَٰلِحٗا فِيمَا تَرَكۡتُۚ كَلَّآۚ إِنَّهَا كَلِمَةٌ هُوَ قَآئِلُهَاۖ وَمِن
وَرَآئِهِم بَرۡزَخٌ إِلَىٰ يَوۡمِ يُبۡعَثُونَ ١٠٠

په پاتې شوې دنیا کې به ښه ښه کارونه وکړم. نه، دا د هغه د خولې تشې او بې ګټې خبرې دی، مخې ته یې عالم برزخ دی چې د بیا ژوندی کیدو پورې به (هم هلته پروت وی).

فَإِذَا نُفِخَ فِي ٱلصُّورِ فَلَآ أَنسَابَ بَيۡنَهُمۡ يَوۡمَئِذٖ وَلَا
يَتَسَآءَلُونَ ١٠١

نو کله چې( د قیامت په ورځ د اسرافیل دویمه) شپیلی ووهل شی، بیا به، نه د دوی ترمنځ نسبونه او خپلوۍ پاتې شی. او نه به د یو بل د حال احوال پوښتنه کولی شی.

فَمَن ثَقُلَتۡ مَوَٰزِينُهُۥ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡمُفۡلِحُونَ ١٠٢

ګټه،نیکمرغی او بریالیتوب به د هغه چا په برخه وی چې د اعمالو تله یې درنه وی.

وَمَنۡ خَفَّتۡ مَوَٰزِينُهُۥ فَأُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ خَسِرُوٓاْ أَنفُسَهُمۡ فِي جَهَنَّمَ
خَٰلِدُونَ ١٠٣

او لوی زیان موندونکی به هغه وی چې د اعمالو تله یې سپکه او بې ارزښته وخیژی او تل تر تله په جهنم کې پروت وی.

تَلۡفَحُ وُجُوهَهُمُ ٱلنَّارُ وَهُمۡ فِيهَا كَٰلِحُونَ ١٠٤

اور به یې د بدن غوښې وریتوی، او مخونه به یې ورسره سخت بدرنګه وی( اللهم احفظنا منه).

أَلَمۡ تَكُنۡ ءَايَٰتِي تُتۡلَىٰ عَلَيۡكُمۡ فَكُنتُم بِهَا تُكَذِّبُونَ ١٠٥

(الله تعالی به دوی ته ووایی) آیا زما آیتونه درته نه لوستل کیدل چې تل به مو دروغ ګڼل؟( او له خپله لاسه د همدې عذاب مستحق شوۍ).

قَالُواْ رَبَّنَا غَلَبَتۡ عَلَيۡنَا شِقۡوَتُنَا وَكُنَّا قَوۡمٗا ضَآلِّينَ ١٠٦

دوی به ووایی: ای زمونږ ربه! بدبختی او شقاوت په مونږ برلاسی شو او ربښتیا چې مونږ یوه بې لارې ډله وو( او شیطان د حق له لارې منحرف کړی وو).

رَبَّنَآ أَخۡرِجۡنَا مِنۡهَا فَإِنۡ عُدۡنَا فَإِنَّا ظَٰلِمُونَ ١٠٧

نو ای زمونږ ربه! مونږ له دوزخه وباسه( که بیا مو ګناهونو او ګمراهۍ ته مخه کړه نو) بې له شکه به ظالمان یو.

قَالَ ٱخۡسَـُٔواْ فِيهَا وَلَا تُكَلِّمُونِ ١٠٨

(الله تعالی) به ووایی: چپ شئ او خوار او ذلیل په دوزخ کې ورک شئ او زما سره( د عذاب د کمولو لپاره) خبرې مه کوئ.

إِنَّهُۥ كَانَ فَرِيقٞ مِّنۡ عِبَادِي يَقُولُونَ رَبَّنَآ ءَامَنَّا فَٱغۡفِرۡ لَنَا وَٱرۡحَمۡنَا
وَأَنتَ خَيۡرُ ٱلرَّٰحِمِينَ ١٠٩

( هغه مو په یاد دی چې) زما یوې ډلې( مؤمنو) بندګانو به ویل: ای ربه په تا مو ایمان راوړی، نو مونږ وبښه، او په مونږ رحم وکړه، او ته تر ټولو ښه رحم کوونکی یې.

فَٱتَّخَذۡتُمُوهُمۡ سِخۡرِيًّا حَتَّىٰٓ أَنسَوۡكُمۡ ذِكۡرِي وَكُنتُم مِّنۡهُمۡ
تَضۡحَكُونَ ١١٠

خو تاسو به په هغو باندې ټوکې او مسخرې کولې( تر هغه چې دغو ټوکو او مسخرو) تاسو زما له ذکر نه غافل کړئ، او تل به مو ( د هغوی په ایمان، نیکو اعمالو او دعاګانو) خنداګانې او ملنډې کولې.

إِنِّي جَزَيۡتُهُمُ ٱلۡيَوۡمَ بِمَا صَبَرُوٓاْ أَنَّهُمۡ هُمُ ٱلۡفَآئِزُونَ ١١١

نن زه د هغوی د صبر او زغم اجر او مکافات ورکوم، بیشکه چې هغوی نیکمرغه او بریمن دی.

قَٰلَ كَمۡ لَبِثۡتُمۡ فِي ٱلۡأَرۡضِ عَدَدَ سِنِينَ ١١٢

بیا به الله تعالی پوښتنه وکړی چې څو کاله مو په دنیا کې ژوند کړی؟

قَالُواْ لَبِثۡنَا يَوۡمًا أَوۡ بَعۡضَ يَوۡمٖ فَسۡـَٔلِ ٱلۡعَآدِّينَ ١١٣

دوی به ووایی: یوه ورځ یا د ورځې یوه برخه، خو ته له خپلو محاسبینو نه وپوښته( چې مونږ څومره ژوند کړی دی).

قَٰلَ إِن لَّبِثۡتُمۡ إِلَّا قَلِيلٗاۖ لَّوۡ أَنَّكُمۡ كُنتُمۡ تَعۡلَمُونَ ١١٤

الله تعالی به ووایی: که پوهه او شناخت مو درلودی،( پوه شوی به وی چې) ډیر لږ وخت په دنیا کې پاتې شوی واست.

أَفَحَسِبۡتُمۡ أَنَّمَا خَلَقۡنَٰكُمۡ عَبَثٗا وَأَنَّكُمۡ إِلَيۡنَا لَا تُرۡجَعُونَ ١١٥

آیا فکر کوئ چې تاسو مو عبث او بې هدفه پیدا کړی یاست، او بیرته( د حساب کتاب لپاره) زمونږ حضور ته نه راګرځئ؟

فَتَعَٰلَى ٱللَّهُ ٱلۡمَلِكُ ٱلۡحَقُّۖ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ رَبُّ ٱلۡعَرۡشِ
ٱلۡكَرِيمِ ١١٦

نو ډیر با عظمته دی د الله تعالی ذات، هغه ربښتینی او حقیقی ټولواک، چې له هغه نه غیر، بل خدای نشته او د ستر او عزتمن عرش څښتن دی.

وَمَن يَدۡعُ مَعَ ٱللَّهِ إِلَٰهًا ءَاخَرَ لَا بُرۡهَٰنَ لَهُۥ بِهِۦ فَإِنَّمَا حِسَابُهُۥ عِندَ
رَبِّهِۦٓۚ إِنَّهُۥ لَا يُفۡلِحُ ٱلۡكَٰفِرُونَ ١١٧

او څوک چې له الله تعالی نه غیر، د بل چا عبادت وکړی او( د خپل باطل خدای په حقانیت یې ورسره) هیڅ دلیل هم نشته، نو الله تعالی به ورسره حساب کوی، خو قاطعانه خبره دا ده چې کافران د نیکمرغۍ او بریالیتوب مخ لیدلی نشی.

وَقُل رَّبِّ ٱغۡفِرۡ وَٱرۡحَمۡ وَأَنتَ خَيۡرُ ٱلرَّٰحِمِينَ ١١٨

او( ای پیغمبره، او ای د مبارک قرآن هر مخاطبه! تل وایه چې: ای زما ربه! ماته ببښنه وکړه، په ما رحم وکړه، او ته تر ټولو ښه او غوره رحم کوونکی یې.

«تمت سورة المؤمنون بفضل الله رب العالمین».

======================